هاري                                                    واشنګټن ۱۷/۰۵/۲۰۰۹

# د پاکستان قومي خطرناکه درزونه

نوټ: محترم سيلګ هاريسن د افغانستان، پاکستان او سيمي په باب څو کتابه ليکي دي. ښاغلی هاريسن د افغانانو سره خاصه مينه لري، او په خپلو ليکنو کي يې تل د هغوی ملاتړ کړی دی. هغه لدې منطقي سره اوږده سابقه لري او يو وخت په سيمه کي د واشنګټن پوست خبريال هم وو. محترم هاريسن پدې مشهوره دی چي د ځينو بين المللي سياسي بحرانونو په باب مخکنی خبرداری ورکوی. هغه پر افغانستان باندي د شورويانو د تجاوز څخه پوره يوه کال مخکی د هغه ناځوانمردانه تيري خبرداری ورکړی وو. هغه وايي:" سي اي ې" او "اې ايس اې" نژدې اړيکي سره لري."

د محترم هاريسن همدا مقاله د مي پر ۱۱ په واشنګټن پوست کي خپره سوي وه. د ښاغلي هاريسن د مقالي اساسي ټکی دا دی چي کېدای سي پښتون نشنلزم او مذهبي افراطيت سر ګډ سي. له بده مرغه، دمګړی تر ډېره حده همدا کار سوی دی. حتی ځيني باسواده پښتانه هم کله نا کله د ډېري ناهيلۍ او کمزورتيا له امله د طالبانو له شدل نظامه ملاتړ کوي. زه پدې باور يم که چيري د دغي کړغېرني پروسي مخه ونيول سي، د ټول پښتون قام تباهي حتمي ده. زه باور لرم چي د طالبانو په وروست حکومت کي د پښتنو لپاره هيڅ خير او ګټه نسته. نو بنا،د ګردو پښتنو منورينو ايماني او وجداني وظيفه ده چي د طالبانو او القاعدې له شره ځان خلاص کړي، او لدې مذهبي بلا سره نبغ په نبغه مبارزه وکي. څرنګه چي د محترم هاريسن مقاله نهايت ژوره او په زړه پوري ده، نو ځکه تر ډېره حده پوري هو به هو ترجمه سوه.

د ډېرو امريکايانو په خيال په پاکستان کي د طالبانو پر خلاف روان اخ و ډب پر مذهبي افراطيت باندي را څرخي. مګر د پاکستان جنګ د اسلامي افراطيت او قومي تاوتريخوالي يو خطرناک مخلوط دی. همدا جګړه هغه وخت لا خطرناکه سوه چي امريکا پر پاکستان باندي فشار واچوه چي د طالبانو او القاعدې پر ضد پوځي عمليات ګړندي کاندي. د دغي جګړې د قومي بعد درک او پېژندلګوي هغه حياتي مسله چي د نهايي بري لپاره حتمي او ضروري ده. دغه راز، د پاکستان د سياسي ثبات لپاره بايد طالبان او القاعده سره جلا سي.

د پاکستان پوځ بشپړ له پنجابيانو څخه جوړ دی. بلخوا، طالبان کاملا پښتانه دي. د پېړيو پېړيو راهيسي، د پاکستان او افغانستان پر پولو باندي پرتو پښتنو د مداخله ګرو او حاکمو پنجابيانو د دايمي محاصرې پر خلاف مبارزه کړی ده. نو بنا، د جهاديستانو د ختمولو په غرض پښتني سيمو ته د پنجابي عسکرو لېږل پاکستان د قومي او داخلي جنګ په ډګر بدلوي. همدا راز، دا عمليات د يوه ازاد "پښتونستان" د جوړېدو ولولي لا غښتلي کوي. پدې پښتونستان کي به قريب ۴۱ ميلونه پښتانه سره راغونډ سي.

همدا وجه وه چي په لمړي سر کي د پاکستان پوځ د طالبانو سره په سوات کي د سولي معامله وکړه، او هم يې د امريکا د هغو فشارونو په وړاندي مقاومت کاوه چي له پاکستاني پوځ څخه يې غوښتل چي د جهاديستانو پر خلاف بشپړ جنګ اعلان کړي. که څه هم د پاکستان پوځ د طالبانو او پنجابي مذهبي افراطيانو له اتحاد څخه ډارېږي، خو هغوی د پښتنو د استقلال او بېلتون د زياتېدونکي خطر څخه لا زياته بېره لري.

په تاريخي لحاظ، د برتانيي تر امپرياليزم پخوا پښتانه په سياسي لحاظ يوموټی وه. پښتون پاچاهان چي د افغانستان موسسين هم وه، د اوسني پاکستان په شمول پر يوې پراخي ساحي باندي سياسي حاکميت لاره. خو په ۱۸۴۷ کي انګريزانو پښتنو ته ماتي ورکړه، او افغانان چي له ډاره لړزېدل په منده منده د خيبر په درې ننوتل او هلته د جګو غرونو شاته پټ سول. د پښتنو تر دې څرګندي ماتي وروسته، انګريزانو په وچ زور د "ډيورنډ لاين" پر هغوی باندي تحميل کړ چي تر نن ورځي پوري افغانستان ندی منلی. د پښتنو نشنلستانو د اعتراضونو سره سره، انګريزانو همدا فتح سوي مځکي په ۱۹۴۷ کي پنجابي حاکميت ته ورسپارلي.

د هغه وخت راهيسي، افغاني حکومتونو د پښتنو پر دغو اشغال سويو سيمو باندي پنجابي حاکميت ته چلنجونه ورکړيدي، وخت نا وخت يې د يوه خود مختاره پښتونستان چغي هم وهلي دي، او يا يې د يوه ازاد "پښتونستان" او يا د يوه "لوی افغانستان" چي همدا بايللي سيمي به پکي داخلي وي، ناري هم وهلي دي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د پښتونستان د جوړېدو ډار پاکستان دېته اړ ایست چي د شورویانو د اشغال په دوران کي جهادیستان او افغان مذهبي ګوډاکیان تربیه او وروزي، وروسته همدې پنجابیانو طالبان جوړ او پر شا ټکول. مګر د حیرانتیا خبره دا ده کله چي همدې طالب ګوډاګیانو کابل ونیو، د اسلام اباد د فشارونو سره سره یې د ډیورنډ کرښه تایید نکړه. جمهورریس حامد کرزی هم مقاومت کوي، او همدا کرښه یې یو کرغېړن سرحد بللی دی چي د "دوو وروڼو" تر مینځ یې د کرکي او بیلتون دیوال جوړ کړي دي.

انګریزانو د پښتنو ازادي غوښتونکي اقوام دېته مجبوره کړل چي د انګریزانو حاکمیت ومني، مګر په خپلو سیمو کي یې ازادي ورکړه. همدا خود مختاري د پاکستان حکومتونو هم ور سره منلي وه، خو د بش په پېر کي د پاکستان پر جمهورریس پرویز مشرف باندي فشار واچول سو چي په ۲۰۰۲ کي همدې سیمو ته پوځ واستوي. تر اوسه پوري همدې پالیسی په لکهاوو پښتانه بېځایه کړي دي، او د امریکایي بې پیلوټو الوتکو په بمباریو کي څه د پاسه ۷۰۰ ملکي پښتانه تلف سوي دي.

اوس نو، سوال دا دی چي د اوباما حکومت باید څه کړي؟

په نظامي لحاظ، متحده ایالات باید خپلي بمباری ختمي کړي. ځکه همدا ړندې بمباری په پښتنو کي د خارجي قواوو پرخلاف خښم او قهر را پارولی دی. همدې بمباریو القاعدې او نورو جهادیستانو ته ددې فرصت برابر کړی دی چي د امریکا د ماتولو خوب او خیال په سر کي وروزي.

په سیاسي لحاظ، د متحده ایالاتو پالیسی باید داسي جوړه سي چي د پښتنو غوښتني منعکسي کړي. مانا دا چي پښتانه د پنجابي حاکمیت په مقابل کي غښتلي کړي.

د فاتا پښتانه پر خپلي ازادۍ مین دي، او د اسلام اباد حاکمیت یې نه خوښېږي. د بین المللي بحران ګروپ د مارچ ۱۳ رپوټ وایي: د فاتا پښتانه غواړي چي د صوبه سرحد له پښتنو سره یو ځای سي.

متحده ایالات باید د صوبې سرحد او فاتا د پښتنو د یو ځای کېدو غوښتني تایید کړي، او وروسته د بلوچستان او پنجاب پښتني سیمي د "پښتونخوا" په یوه واحد او یوموټي ایالت کي سره راغونډ کړي، او د هغوی د خود مختاری له غوښتنو څخه ملاتړ وکړي.

په عین حال کي، د پښتني سیمو لپاره د متحده ایالاتو مالي او بشري مرستي باید اسلام اباد ته ور نه کړه سي، بلکي باید له اسلام اباد څخه وغوښتل چي همدا مرستي د صوبې سرحد د حکومت په موافقې او مشورې وویشل سي.

القاعده او "خارجي جنګیالي" چي مطلق اکثریت یې عرب دي، د ځایي طالبانو ملاتړ ته اړتیا لري. القاعده نړیوال تروریستي اجندا لري، خو اکثره طالبان محلي غوښتني لري. طالبانو متحده ایالاتو ته خطر نه دی مخامخ کړی. نو بنا، متحده ایالات باید د عوامي نشنل پارټۍ د سولي د تجویز ملاتړ وکړي. عوامي نشنل پارټۍ یو سیکولر ګوند دی چي غواړي ځایي طالبان او القاعده سره جلا کړي. په بل عبارت، پوځي عملیات باید یوازي او یوازي نهایي چاره وي.

عمومي مفکوره دا ده چي بالاخره به یا پښتون نشنلزم کامیابه کېږي او یا به اسلامیستان میدان ګټي. مګر په واشنګټن کي د پاکستان د سفیر حسین حقاني په وینا د یوه "اسلامي پښتونستان" د جوړېدو نظریه هم امکان لري. په ۲۰۰۷ کي، په واشنګټن کي د پاکستان پخوانی سفیر، محمود علي دوراني، ویلي وو، "زه هیلمن یم چي طالبان او پښتون نشنلزم سر ګډ نه سي. که چیري دا کار وسي، موږ ختم یو. موږ دې شي ته ډېر ور نژدې سوي یو."

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de